Community Resilience
to Foreign Interference

# د بهرنۍ لاسوهنې بیلګې

دلته د قومي ټولنو لخوا د تجربه شوي بهرنۍ لاسوهنې ځینې بیلګې دي. دا بیلګې د هغو تجربو پر بنسټ دي چې قومي ټولنو د قومي ټولنو وزارت سره شریک کړي دي.

په دې بیلګو کې "بهرنی دولت" **له نیوزیلنډ پرته د یو بل هیوا**د مانا لري .دا اصطلاح له نیوزیلنډ څخه بهر هیوادونو لپاره کارول کیږي.

## 1 بیلګه

د ټولنې غړي ډیر وختونه غواړي چې خپلو اصلي هیوادونو ته سفر وکړي ترڅو له خپلو ملګرو او کورنیو سره وګوري. د دې لپاره، دوی ممکن د قونسلګرۍ خدمتونو کارولو ته اړتیا ولري. دا خدمتونه د یو هیواد د سفارت یا قونسلګرۍ لخوا خپلو اتباعو ته چې په بهر کې دي دوی ته وړاندې کیږي او پدې خدمتونو کې د پاسپورټونو، ویزې، سفري اسنادو صادرول او د نورو قانوني مسلو چارو ترسره کول شامل دي.

په نیوزیلنډ کې د یوې قومي ټولنې غړو ته د قونسلګرۍ د کارکوونکیو لخوا ویل شوي چې دوی به د پاسپورټونو نوي کول یا ویزې ترلاسه نکړي که چیرې دوی په نیوزیلنډ کې د هغو ډلو یا خلکو سره ملګرتیا ولري چې په هغه بهرني دولت نیوکه کوي. دا ټولنه ته د دې احساس، ورکوي چې خپل نظرونه څرګند نکړي، له ځینو خلکو سره خبرې ونکړي، اعتراض ونکړي، یا له ځینو ډلو سره یوځای نشي. دا محدودیتونه په نیوزیلنډ کې دې ټولنې ته د بهرني دولت لخوا د ترلو او کنټرولیدلو احساس ورکوي. کله چې خلک نشي کولی د خپلې کورنۍ او ملګرو د لیدو لپاره سفر وکړي، دا د دوی په کورنیو او هوساینې باندې لوی اغیزه لري.

## 2 بیلګه

په یوه ټولنه کې، د عبادت ځای د بهرني لاسوهنې لخوا په نښه شوي وو. یو نوی غړی، چې ډیر مذهبي ښکاریده، د ټولنو په مذهبي فعالیتونو کې ډیر ښکیل شو. دوی د سیاست په اړه ډیرې خبرې پیل کړې او خلکو ته یې وویل چې د خپل اصلي هیواد د حکومت ملاتړ وکړي. دوی غوښتل چې وعظونه د سیاست په اړه وي. نوي غړي دا هڅه هم وکړه چې خلک د بهرني دولت له نیوکې څخه ډډه وکړي. له دوی څخه د بهرني دولت لخوا وغوښتل شول چې دا ټول ترسره کړي.

د ټولنې هغه غړو چې د دوی د دې نوي غړي په حضور کې پر بهرني دولت نیوکه یې کوله، بیایې متنې پیغامونو او د ټولنیزو رسنیو له لارې نامالوم ګواښونه ترلاسه کول. دا ډول څه د نوي غړي له راتګ دمخه نه و پیښ شوي. ټولنې دا شک درلود چې دا نوی غړی بهرني دولت ته راپور ورکوي. دوی ولیدل چې دا مسلې یوازې وروسته له هغه پیل شوې چې دا نوی غړی له دوی سره یوځای شو او هڅه یې وکړه چې خلک د بهرني دولت ملاتړ وکړي. دې وضعیت خلکو ته د یو بل څخه د ناامنۍ او بې باورۍ احساس ورکړ. د ټولنې لپاره دا سخته شوه چې سره راټول شي او په دې عبادت ځای کې په خپله عقیده تمرکز وکړي.

## 3 بېلګه

په یوه ټولنه کې، خلکو د خپلې ټولنې د یو غړي څخه شکمن چلند ولید. دې سړی تل د ټولنې د نورو خلکو د سیاسي نظرونو او فعالیتونو په اړه پوښتنه کوله. ټولنې ومونده چې دا کس د بهرني دولت لخوا ګومارل شوی و چې په نیوزیلنډ کې خپل سفارت ته د هغو خلکو په اړه راپور ورکړي چې د خپل اصلي هیواد پر حکومت یې نیوکه کړې وي.

د ټولنې ځینې غړي چې له دې کس سره یې خبرې کړې وې او په بهرني دولت یې نیوکه کړې وه، له ناخاپي ستونزو، لکه د ویزې ستونزې او خپل اصلي هیواد ته له رسیدلو وروسته په هوایي ډګر کې له پوښتنو سره مخ شول. دوی هیڅکله مخکې له دې ستونزو سره نه و مخ شوي. دوی فکر کوي چې دا ستونزې ځکه رامینځته شوې چې د دې ټولنې د هغه غړي سره د دوی خبرې اترې سفارت ته راپور شوې وې. دې کار په ټولنه کې خلک ویرول او بې باوره یې کړل، نو دوی د خپلو ریښتینو نظرونو څرګندول بند کړل.

## 4 بېلګه

یو فعال چې پر خپل اصلي هیواد یې نیوکه کوله، خپل اصلي هیواد ته د ورګرځیدلو پر مهال د چارواکو لخوا ورته زیان ورسید. په نیوزیلنډ کې چې ټولنې د دې په اړه واوریدل ډیر اندیښمن شول چې دا د هغه چا سره پیښیږي چې دوی یې پیژني.

یو څو میاشتې وروسته په نیوزیلنډ کې، د ټولنې یو غړي ګواښوونکي پیغامونه ترلاسه کړل چې نوموړي ته یې ګواښ کړي و چې که دوی بهر ته سفر وکړي نو محتاط دې واوسئ. دوی په نیوزیلنډ کې د خپل اصلي هیواد د بشري حقوقو اندیښنو په اړه څرګندونې کړې وې. اوس، دوی له خپلې کورنۍ سره د لیدنې او په هغو هیوادونو کې د پاتې کیدلو په اړه ډیر اندیښمن دي چې ممکن د دوی د اصلي هیواد د حکومت لخوا د دوی د نیولو په امر عمل وکړي.

د دوی د اصلي هیواد دولتي چارواکو په هغه هیواد کې د دوی له کورنۍ سره ولیدل، اوس د دوی کورنۍ له دوی څخه غوښتنه کړې چې په نیوزیلنډ کې د بشري حقوقو په اړه خبرې کول ودروي. د دې فشار له امله د ټولنې غړي له خپلې کورنۍ سره اړیکه بنده کړله، ځکه چې دوی د خپلې کورنۍ د خوندیتوب په اړه ویره لري. دوی په نیوزیلنډ کې د خپل خوندیتوب او د بیان آزادۍ په اړه هم اندیښمن دي.

## 5 بېلګه

د ټولنې یو غړی چې ډیر وخت یې په ټولنیزو رسنیو کې په ښکاره پر یو بهرنۍ دولت نیوکه کوله، د بهرنۍ لاسوهنې سره مخ شو. د دوی شخصي مالومات لکه د دوی پته، د تلیفون شمیره، او بریښنالیک، آنلاین پرلیکه خپاره شول — دا د افشا کولو (doxing) په نوم یادیږي. هغه خلک چې دا افشا کول یې کړي و د بهرني دولت لخوا ګمارل شوي وو. د ټولنې غړي ګواښوونکي تلیفونونه او پیغامونه ترلاسه کړل. د دوی د ټولنیزو رسنیو حسابونو هم ډیرې ناوړه تبصرې ترلاسه کړې. د ټولنې غړی ډیره ویره درلوده او ناامنۍ احساس یې کاوه.

دوی وروسته ومونده چې دا کار په نیوزیلنډ کې د هغو خلکو لخوا شوی چې د بهرني دولت لپاره کار کوي. د ټولنې د غړی شخصي مالومات د ویرولو لپاره افشا کړل شوي وو، تر څو دوی په ډاګیزه توګه پر بهرني دولت نیوکه ودروي. دوی په ټولنیزو رسنیو کې د خپلو نظرونو څرګندول او خبرې کول بند کړل.